لوګر پوهنتون
علمي او محصلانو چارو معاونیت
څېړنو او علمي مجلې امریت
د علمي څېړنو مرکزي کمېټه

# علمي څېړنو د مرکزي او فرعي کمېټو تګلاره

ترتیب کوونکی: پوهندوی دوکتور وحیدالله عبدالرحیم زی د څېړنو او علمي مجلې امر او پوهنیار محمدفواد ناصري.

کال: ۱۴۴۷ هـ.ق/ ۱۴۰۴ ل. ل

## سریزه

الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَى سَيِدِنَا مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِينَ.

په علمي چارو کې د څېړنې اهمیت او ارزښت له هیچا پټ نه دی. هر فکر لرونکی شخص د پرمختګ او ټولنې ته د چوپړ کولو په موخه خپلې علمي او څېړنیزې هڅې ګړندی ساتي؛ ترڅو وکولای شي خپلو هېوادوالو ته د فکر، علم او قلم له لارې د خدمت جوګه شي او د ګران هېواد افغانستان لپاره په بېلابېلو څانګو کې کتابونه، علمي مقالې او څېړنیزې پایلې تولید، روښانه او ولیکي.

انسانان په طبیعي ډول څیرک او حقیقت پلټونکي دي او د تل لپاره په ناڅرګندو موضوعاتو پسې ګرځي. د اسلام له ظهور سره سم د علم او پوهې پر ارزښت ډېر زیات تأکید شوی دی او د انسانانو لپاره یې د زده کړې او پوهې نوې برخې پرانیستي دي. په همدې اړوند الله جل‌جلاله په خپل ښکلي او تل پاتې کلام قرآن عظیم‌الشان کې فرمایي: (قُلِ انظُرُوا مَاذَا فِي السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا تُغْنِي الْآيَاتُ وَالنُّذُرُ عَنْ قَوْمٍ لَا يُؤْمِنُونَ[1]) ژباړه: ته (ورته) ووایه: تاسو وګورئ په اسمانونو او ځمکه کې څه (څه دلیلونه) دي او هغه قوم ته له ایتونو او وېروونکیو څخه فایده نه رسي چې ایمان نه راوړي. دلته جوته کېږي چې الله جل‌جلاله انسانان د خپلو قدرتونو د پېژندلو لپاره د فکر کولو او ژور لیدلو امر کړی دی.

په ټولیزه توګه پوهنتونونه له پخواني رول څخه، چې لګښتي او نظري اړخ درلود، اوس مهال تولیدی او عملي خواته حرکت کوی، د څېړنې، تالیف او ژباړې ریاست په ایجاد سره څېړنو په پوره ډول سره بدلون وکړ او د نړیوالو څېړنو او قوانینو مطابق یې د څېړنو په ښه‌والي او سمون کې لازم ګامونه اوچت کړي دي. د لوړو زده کړو قدرمن وزارت د پوهنتونونو په چوکات کې د څېړنو ښه‌والي او کره‌والي لپاره د څېړنو او علمي مجلو معاونیتونه/ امریتونه ایجاد کړل. په دې کړنې سره پوهنتونونه د څېړنې په برخه ډېر فعال شول او هڅه کوي، چې د څېړنو مرکزي کمېټې په مرسته د وزارت د پالیسیو، لوایحو، مقرراتو او تګلارو په مرسته د څېړنو بهیر لا ګړندی او سمون رامنځته کړي.

دا تګلاره د څلور څپرکو او اولس مادو په لرلو سره د پوهنتون د څېړنو مرکزي کمېټې د ۴ ګڼه پروتوکول او ۱۴۰۴/۵/۲ ل. ل کال په غونډه کې تائید او د تطبیق وړ دی.

---

[1] سورت یونس ۱۰۱ آیت شریف

# لومړی څپرکی
# عمومي حکمونه

## د تګلارې د جوړښت بنسټ

### لومړۍ ماده

دا تګلاره د لوړو زده‌کړو وزارت د کیفیت تضمین او اعتبارلوړولو ریاست د معیارونو تفسیر چوکات شپږم اصلي معیار (څېړنه) د لومړي فرعي معیار پر بنسټ (پوهنتون د څېړنو د بقا او ښه‌والي لپاره واضحه تګلاره لري، چې عملاً تطبیقېږي) او همدی فرعي معیار په دویمه ګڼه شاخص کې (پوهنتون د یوې مدونې څېړنیزې علمي تګلارې درلودونکی دی، چې په برېښنايي پاڼه کې نشر شوي وي) ترتیب شوې ده. همداراز د لوړو زده‌کړو وزارت د تقنیني اسنادو، پالیسیو، مقرراتو، لوایحو او حکمونو ته پام او د څېړنې، تألیف او ژباړې قدرمن ریاست د لارښوونو په رڼا کې او لوګر پوهنتون د ستراتیژیک پلان مطابق ترتیب شوې، چې د څېړنې مرکزي کمېټې د کړنو د نظم او سمون لپاره خورا مهم دی.

### موخې

### دویمه ماده

ددې تګلارې د څېړنیزو فعالیتونو د تنظیم او پر وخت تطبیق لپاره لاندې موخې ټاکل شوي دي.

١. لوګر د لوړو زده کړو په مؤسسه او پالیسي جوړونکو ادارو کې د څېړنو فرهنګ دود کول؛
٢. د استادانو او محصلانو تر منځ د معیاري څېړنو د فعالیتونو زیاتول؛
٣. د څېړنیزو فعالیتونو پراختیا او سمون؛
٤. د تحصیلي مرکز دننه او ولایتي ادارو په همغږۍ د څېړنو لپاره مناسب چاپېریال را منځته کول؛
٥. د استادانو او محصلانو لپاره د څېړنو په برخه کې د ظرفیتونو لوړول؛
٦. په کنفرانسونو کې د ګډون او مقالې لیکلو لپاره د استادانو هڅول.

**ترکیب او جوړښت**

**دریمه ماده**

د کمېټې په تشکیل کې د کمېټې مسؤول، منشي او د هرې پوهنځی یو لوړ رتبه استاد ګډون لري، څو د څېړنیزو کړنو او لیکنو حالت ښه شي او د سمون لپاره یې لازم اصلاحات وړاندې کړي.

په دې تګلاره کې د ځینو اصطلاحاتو تشریح

١. **د څېړنو مرکزي کمېټه:** د څېړنو د سمون او تنظیم هغه کمېټه ده، چې ددې تګلارې په رڼا کې د ځانګړو غړو درلودونکې ده او د څېړنیزو کړنو د اصلاح او په یادو فعالیتونو باندې د شته لایحې پر بنسټ بحث او پریکړې کوي.

٢. **څېړنه:** څېړنه د پوهې لټون ته وایي چې د علمي کتنو یو هنر دی. اوس مهال په انګلیسي قاموس کې د څېړنې معنیٰ د پوهې په برخه کې د نویو حقایقو موندل یا د ځانګړو معلوماتو لټون بیان شوی دی (Singh, ٢٠٢١). ریدمن (Redman) او موري (Mory) څېړنه د نوې پوهې د ترلاسه کولو لپاره سیستماتیکه هڅه بولي، همدارنګه ځینې پوهان څېړنه د معلوم څخه نامعلوم لورې حرکت ته وایې. ددې نظرونو په دوام کلیفورد وودې (Clifford Woddy) څېړنه د ستونزو تعریف یا روښانه کول بیان کړي دي او د فرضیو یا وړاندیز شوو حل لارو لپاره یې د معلوماتو را ټولول، د هغو تنظیم او ارزول، د ستونزو تشخیص او پایلو ته رسیدل ددې لپاره چې فرضیه څومره د معلوماتو سره سمون لري خپل نظر وړاندې کړی دی.

٣. **څېړنیز پروپوزل:** د څېړنې وړاندیز یوه علمي طرحه ده، چې منظم پړاوونه لري او څېړونکی یې د یوې علمي مسئلې د حل او څېړنې لپاره اړوند ادارې ته وړاندیز کوي.

٤. **کنفرانس:** کنفرانس هغه غونډې ته ویل کیږي، چې په هغه کې علمي موضوع د نورو لپاره وړاندې شي. په علمي برخو کې کنفرانس علمي محدود غړو ته او د هغې برخې ځینو محصلانو په ګډون د یو تن استاد لخوا په یوه علمي موضوع کې وړاندې کیږي، چې د ژوري هیئت لخوا ارزول کیږي.

٥. **سیمینار:** سیمینار د ځینو ځانګړو موضوعاتو وړاندې کولو ته وایي، چې یو یا څو وړاندې کوونکي ولري او د یوې ځانګړې موضوع په اړه بحث وکړي. په عمومي



LOGAR HIGHER EDUCATION INSTITUTE

ډول ګډون کوونکي په ښه بریالي سیمینار کې بحث ته هڅول کیږي او اصلي وړاندې کوونکی په ډیری حالاتو کې د اسانتیا او لارښوونې چارې پرمخ وړي، کله هم دغه ګډون د پوښتنو او ځوابونو تر کچې پورې تړلی وي. په دې برخه کې لومړنی بېلګه د محصلانو سیمینارونه د ځلورو کلونو په اوږدو کې یادولای شو، چې د خپلو ملګرو پر وړاندې یې بیانوي؛ مګر ځینې نور سیمینارونه بیا په لوړه کچه وي چې د هغو ګډون کوونکي استادان او کارکوونکي وي، چې څوساعته او یا څو ورځې دوام کوي او ډیری برخه یې ګډون کوونکي جوړوي.

٦. **ورکشاپ**: یو ډول د سیمینار ده، چې پر آزاد بحث، د نظریاتو ادلون بدلون او د ځینو عملي درسونو، وړتیاوو او اصولو ښوونه ده. همدارنګه د څو تنو راټولیدنې ته چې د یوې موضوع په اړه شدید بحثونه وکړي او خپل اندونه سره شریک کړي ورکشاپ ویل کیږي

٧. **مونوګراف**: مونوګراف یوه څېړنیزه او تخصصي لیکنه ده، چې د افغانستان په لوړو زده کړو کې یې محصلان د لیسانس زده کړو په پای د اووم او اتم سمستر په بهیر کې لیکي.

## دویم څپرکی
## د علمي څېړنو د مرکزي او فرعي کمېټو جوړښت او دندې

### د علمي څېړنو د مرکزي کمېټې جوړښت

**څلورمه ماده**

د لوګر پوهنتون په کچه د علمي څېړنو مرکزي کمېټه لاندې جوړښت لري.

۱. د څېړنو او علمي مجلې امر د مسؤول په توګه؛
۲. د استادانو چارو امر د غړي په توګه؛
۳. د څېړنو او علمي مجلې عمومي مدیر د منشي په توګه؛
٤. د پوهنځیو لابراتوارونو او د کتابتون عمومي مدیر د غړو په توګه؛
۵. د هرې پوهنځۍ یو تن لوړ رتبه استاد د غړي په توګه؛
٦. د پوهنتون په کچه دوه تنه لوړ رتبه استادان د غړو په توګه.

یادونه: د پوهنځۍ استاد باید د څېړنو فرعي کمېټې غړیتوب ولري.
د علمي څېړنو کمېټې غړي د څېړنو او علمي مجلې امریت په وړاندیز او د علمي شورا له تائید وروسته د کمېټې د غړو په توګه منل کیږي.

**پینځمه ماده**

د پوهنځیو په کچه د څېړنو عمومي کمیټې جوړښت
۱. د پوهنځۍ رئیس د مسؤول په توګه؛
۲. د پوهنځۍ مرستیال د کمېټې د منشي په توګه؛
۳. له هرې څانګې څخه یو تن لوړ رتبه استاد د غړو په توګه؛
٤. کرنې پوهنځۍ د فارم مسؤول او د نورو پوهنځیو لابراتوارونه د غړو په توګه.

**شپږمه ماده**

۱. د علمي څېړنو د مرکزي کمېټې د مسؤول دندې:
۲. د کمېټې د غونډو مدیریت او څارنه؛
۳. د نوبتي او فوق العاده غونډو ترتیب؛

٤. په کمېټه کې د پرېکړو تطبیق، څارنه او تعقیب؛
٥. اړوند شعباتو او علمي شورا ته د پرېکړو او کړنو ربعوار راپور وړاندې کول.

**اوومه ماده**

١. د کمېټې د غړو دندې:
٢. په غونډه کې فعال حاضریدل او ونډه اخیستل؛
٣. پر وخت سره د ورسپارل شویو دندو سپارل؛
٤. د څېړنې امریت سره د څېړنو پرمختګ بهیر کې مرسته کول؛
٥. د علمي څېړنو په طرزالعمل باندې ځان پوهول.

**اتمه ماده**

١. د کمېټې منشي دندې:
٢. د پوهنځیو او نورو اړوند شعباتو د بحث وړ موضوعاتو راټولول؛
٣. د غونډې اجنډا او د موضوعاتو لازم معلومات وضاحت لپاره سلایدونه جوړول.
٤. د پرېکړو ثبت او د غړو لاسلیکونه اخیستل؛
٥. اړوند شعباتو او ادارو ته د پرېکړو مصوبې لېږل؛
٦. په غونډه کې د پرېکړو لپاره د اړتیا وړ شواهد او اسنادو راټول.

**نهمه ماده**

١. د کمېټې غونډې:
٢. په میاشت کې یوه غونډه او په غونډو کې د غړو د نصاب پوره‌والی؛
٣. د فوق العاده غونډو نیول او په پرېکړو کې د اکثریت غړو هوکړه اخیستل؛
٤. د یوې موضوع د اعتراض په حالت کې علمي شورا ته وړاندې کول؛
٥. په فرعي کمېټه کې پر موضوع د اعتراض حالت کې د څېړنو مرکزي کمېټې کې بحث کول.

## درېیم څپرکی

## د څېړنو د مرکزي کمیټې د دندو لایحه

**لسمه ماده:**

**د دندو لایحه**

- د څېړنو د عمومي کمیټې د عملیاتي پلان، اورګانو ګرام، دندو لایحې، مهال وېش او جلساتو کتاب جوړول؛
- په هره میاشت د مهال وېش مطابق د غونډو جوړول؛
- د غونډو د راپور او مصوبه ترتیب کول؛
- په غونډه کې د بېلابېلو پوهنځیو استادانو د څېړنیزو ترفیعاتو د پروپوزلونو اصلاح او تائید؛
- د ملي او بین المللی مقالو د عنوانو ثبت او تائید؛
- د څېړنې د فرعي کمېټو څخه راپور اخیستنه او توحید کول؛
- د فرعي کمېټو له غونډو څخه پر وخت څارنه؛
- د اړتیا په وخت کې په څېړنیزو موضوعاتو د سیمینارونو دایرول؛
- د پالیسي جوړونکو څېړنو لپاره مشورې او وړاندیزونه؛
- د فرعي کمېټو سره اغېزمنې او مثمرې اړیکې جوړول؛
- د پوهنځیو او څانګو له مشرانو سره وخت په وخت کتنه؛
- د محصلانو له مشرانو سره د څېړنو په اړه کتنه او مشورې؛
- د مونوګرافونو د موضوعاتو اصلاح او ثبتول؛
- د څېړنو فرهنګ ترویج کولو لپاره هلې ځلې؛
- کنفرانسونو او علمي مجلو ته د مقالې لیکلو لپاره د استادانو تشویق؛
- د راپورونو او نظرونو یو ځای کول او اړوند اداراتو ته لیږل؛
- د هرې ربعې په پای کې علمي معاونیت ته راپور ورکول؛
- د تحصیلي کال په پای کې تضمین کیفیت امریت ته د راپور چمتو کول؛
- د میتکرو او نوښتګرو محصلانو پېژندنده او علمي معاونیت ته لېږل.

**یولسمه ماده**

د فرعي کمېټو د دندې لایحه

- د کمیټې لپاره د کلنی کاري پلان، ظرفیت لوړونې پلان، د غونډو د ثبت کتاب، مهال وېش برابرول؛
- اړوند پوهنځی ته ربعوار راپور وړاندې کول؛
- د علمي کنفرانسونو د پلان ترتیب؛
- د علمي کادر غړو او محصلانو سره د څېړنیزو منابعو په چمتوکولو کې مرسته؛
- د معیارونو او طرزالعملونو په رڼا کې د استادانو څېړنیزو اثارو کتنه او تائید؛
- د لوړو زده کړو وزارت او څېړنې، تألیف او ژباړې ریاست پالیسیو تطبیق کول؛
- د ټاکل شویو معیارونو پر بنسټ د غوره څېړونکي معلومول؛
- د ګرامري، لیکدود او مېځپانګې له مخې د علمي کنفرانسونو د سلایډونو او مواد کارشناسی او تائید؛
- د اړتیا په حال کې د ظرفیت لوړونې لپاره د سیمینارونو او ورکشاپونو وړاندې کول؛
- په څېړنو کې ادبي غلا ته پاملرنه او د څېړنیزو اخلاقو رعایت کول؛
- له څانګو څخه د کلنی پلان غوښتنه او توحید؛
- د مبتکرو او نوښتګرو محصلانو پېژندنه او علمي څېړنو او مجلې امریت ته لیږل؛
- د اړوند پوهنځیو استادانو د بېلابېلو اثارو ډیتابیس جوړول؛
- د محصلانو د مونوګرافونو موضوع ثبت او تائید؛
- د محصلانو د مونوګرافونو ډیتابیس جوړول؛
- محصلانو ته د مونوګراف نوي لارښود توضیح کول؛
- په پوهنځی کې د نشر شویو ملی او نړیوالو مقالو لیست جوړول؛
- د مقالو لیکلو لپاره د استادانو هڅول.

**دولسمه ماده**

ترفیعي او غیر ترفیعي کنفرانسونه

ترفیعي کنفرانسونه د علمي کادرونو لپاره یوه مهمه اړتیا ده، چې د خپل عملي ترفیعاتو په پار یې د څانګې اړوند موضوعاتو کې وړاندې کوي. د څېړنې، تألیف او ژباړې ریاست د بار بار مکتوبونو پر بنسټ علمي- ترفیعي کنفرانسونه لاندې ځانګړتیاوې ولري.

- هر ترفیعي او غیر ترفیعي کنفرانس د ټولنې د ستونزو پر بنسټ وټاکل شي؛
- په کنفرانسونو کې هغه موضوعات وټاکل شي، چې کاریدونکې بڼه ولري؛
- د موضوع شریکولو لپاره د څېړنې او علمي مجلې امریت ولایتي اړوند ریاستونو ته دعوت ورکړي؛
- دیپارتمنت د کنفرانسونو په موضوع ټاکلو کې باید د ډېر دقت څخه کار واخلي.
- د څېړنې کمیټې د غړو په مرسته د کنفرانس موضوع، لیکدود، ګرامري او شکلي ستونزې په ګوته شي؛
- د کنفرانس موضوع په څېړنیزو اصولو او معیارونو ولاړ وي؛
- د کنفرانس موضوع له تائید وروسته علمي معاونیت ته ولیږل شي.

# شلورم څپرکی

## د څېړنو په برخه کې د پوهنځیو دندې او مسؤولیتونه:

### دیارلسمه ماده

د پوهنځی دندې او مسؤولیتونه

- د پوهنځی ریاست په ربعوار بڼه کاریدونکو څېړنو راپور د څېړنو او علمي مجلې له امریت سره شریک کړي.
- شته امکاناتو په کتلو سره استادانو ته د څېړنو سرته‌رسولو لپاره د اسانتیاوو چمتو کول؛
- د څېړنو کمیټې ته ځانګړی اتاق په واک کې ورکول او د تجهیز په برخه کې لازم اجراات کول؛
- پوهنځی د څانګو په کچه توحید شوی څېړنیز پلان د څېړنو او علمي مجلې امریت سره شریک کړي.
- پوهنحی ریاست دنده  لري، چې د محصلانو د مونوګرافونو فزیکي او سافټ بڼه په کلني توګه د څېړنو او علمي مجلې له امریت سره شریک کړي؛
- په دوامداره توګه د مونوګراف لیکنې د نوي لارښود له تطبیق څخه څارنه وکړي.
- په کورنیو او بهرنیو کنفرانسو کې د مقالو لیکلو او ګډون لپاره د استادانو هڅول؛
- الکترونیکي او چاپي منابعو لپاره د استادانو او محصلانو د لاس‌رسي هلې ځلې؛

### څوارلسمه ماده

### د څېړنو په برخه کې د څانګې دندې او مسؤولیتونه

- د څانګې امریت دنده لري، چې استادان یې کاریدونکې څېړنې سرته ورسوي؛
- څانګه مسؤولیت لری، چې په کال کې هریو استاد دریو علمي مقالو لیکلو ته وهڅوی؛
- څانګه مسؤولیت لري، چې خپل څېړنیز پلان د پوهنځی ریاست سره شریک کړي.

### پینځه لسمه ماده

د څېړنو په برخه کې د علمي کادر غړو دندې او مسؤولیتونه

- د علمي کادر غړي کاریدونکې او پالیسي جوړونکې څېړنې سرته ورسوی؛
- استادان باید د کال په اوږدو کې درې علمي- څېړنېزې مقالې نشر کړي؛
- استادان خپل لیکلي اثار او نشرې مقالې د څېړنو او علمي مجلې امریت ته ولیږي؛

- استادان باید د محصلانو د مونوګراف لپاره څېړنیز موضوعات ورکړي.

**شپاړلسمه ماده**

**د غوره څېړونکي د غوراوي معیارونه**

لوګر د لوړو زده کړو مؤسسې د څېړنو او علمي مجلې امریت ژمن دی، چې د هرې پوهنځی څخه یو تن غوره څېړونکی او د ټول تحصیلي مرکز په کچه دوه تنه (یو تن د طبیعي علومو او یو تن د ټولنیزو علومو) په برخه کې د ټاکلو معیارونو پر بنسټ معلوم او د شاندارو مراسمو په ترڅ کې وستایي. د تضمین کیفیت او اعتبار لوړلو ریاست د معیارونو په تفسیري چوکاټ کې د غوره څېړونکو ستایل یو مهم شاخص ټاکل شوې ده، همدارنګه د څېړنې، تالیف او ژباړې ریاست د فعاله څېړونکو ملاتړ کوي او هڅه کوي، چې د دوی غوره او ارزښتناکو څېړنو ته پوره پاملرنه وشي.

د څېړنو فرعي کمېټو په ملتیا غوره څېړونکي په لاندې شرایطو غوره کیږي:

- ټول څېړنیز فعالیتونه د هماغه کال له لومړی او پای نېټې پورې ارزول کیږي؛
- د مقالو، علمي اثارو او کنفرانسونو امتیاز له قطعي چاپ وروسته د محاسبې وړ دي؛
- د ټولو اثارو ثبت د څېړنو او علمي مجلې له امریت سره؛
- ټول څېړنیز فعالیتونه باید په چاپي بڼه وارزول شي؛
- د مقالې لومړی لیکوال نیمایي امتیار او پاتې نور امتیاز په نورو لیکوالانو وېشل کیږي.

د ټولو چاپي اثارو د امتیازونو جدول

| ګڼه | معیار | ضریب | کتنې |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱ | هغه نړیواله مقاله چې تاثیر ضریب یې له ۴ څخه لوړ وي او په الیزور کې انډیکس ولري | ۹ | |
| ۲ | عادي نړیوالې مقالې، چې په معتبر ژورنال کې چاپ وي | ۶ | |
| ۳ | په هېواد کې دننه نړیوالې مقالې | ۶ | |
| ۴ | د هېواد څخه بهر او دننه کنفرانس کې وړاندې شوې مقالې | ۵ | |
| ۵ | ملي مقالې | ۳ | |
| ۶ | تألیفي اثر | ۷ | |
| ۷ | د ژباړې اثر | ۶ | |
| ۸ | څېړنیز اثر | ۴ | |
| ۹ | د ماستري تېزس | ۵ | |
| ۱۰ | د دکتورا رساله | ۸ | |
| ۱۱ | د سایټېشن شمیر | ۱ | |
| | ټولټال امتیازونه | ۶۰ امتیازه | |



LOGAR HIGHER EDUCATION INSTITUTE

د څېړنو مرکزي کمېټې تګلاره

**اولسمه ماده**

## ادبي غلا او اخلاقي کوډونه

**ادبي غلا** (Plagiarism)

تعریف: ادبي غلا هغه عمل دی، چې څېړونکی د نورو لیکوالانو افکار، لیکنې، یا څېړنیزې پایلې پرته له یادونې خپل ځان ته منسوب کړي.

**د ادبي غلا ډولونه**

د متن په مستقیم ډول نقلول پرته له حوالې.

د نظر یا مفکورې اخیستل پرته له سرچینې.

د خپل پخواني کار بیا کارول (Self-plagiarism).

**مخنیوي لارې**

د سمو APA/MLA/Chicago حوالو کارول.

د Turnitin یا نورو Similarity check سافټویرونو کارول.

د څېړنیزو اثارو د سمو حوالو په ورکولو ټینګار.

جزا: د طرزالعمل له مخې، ادبي غلا کېدای شي د څېړنې د لغوه کېدو، د درجې د رد کېدو، یا د څېړونکي د علمي اعتبار د لهلاس ورکولو سبب شي.

**اخلاقي کوډونه** (Research Ethics Codes)

**الف) د انساني څېړنې په برخه کې**

د ګډونوالو رضایت (Informed Consent) اخیستل.

د ګډونوالو د شخصي معلوماتو محرم ساتل (Confidentiality).

د ګډونوالو د زیان نهرسولو اصل.

د څېړنې په پایلو کې د دروغو، جعل یا تحریف نهکارول.

**ب) د څېړونکو لپاره**

صداقت او شفافیت په لیکنه او راپور کې.

د ګډو لیکوالانو د ونډې روښانه کول (Authorship rules).

د سرچینو د سمو حوالو ورکول.

د مالي یا شخصي ګټو تضاد (Conflict of Interest) څرګندول.

**ج) د ټولنې او چاپېریال په اړه**

څېړنه باید د ټولنې د خیر او پرمختګ لپاره وي، نه د زیان لپاره.

د چاپېریال د ساتنې اصول مراعتول.

د احراز الحال [illegible] مرکزي کمېټې [illegible] پروتوکول (د
۲/۵/۱۴۰۴ [illegible]
[illegible]
مسوده طرزالعمل کمیته های مرکزی و فرعی تحقیقات علمی در پروتوکول شماره (۴)
[illegible] شورای علمی [illegible]